**دافغانســــتان اســـــــلامی امارت**

**د ارشـــاد، حج او اوقافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست**

**د ارشاد او دعوت آمریت**

**د خطبو دتنظیم عمومی مدیریت**

---

**دجمعې دخطبې لاربښود مؤرخ: ۱۴۴۳/۴/۲۰هجری قمری مطابق۱۴۰۰/۹/۵هجری شمسی**

# غیر اسلامي هیوادونو ته تلل د اسلامي شریعت له نظره

الحمد لله الذي اعزنا بالإسلام وأمرنا بالتمسک به حتی نصل إلی دارالسلام، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشریک لـه، لـه الملک، ولـه الحمد، وهو علی کل شیء قدیر. وأشهد أن محمداً عبده ورسوله الذي حذرنا عن کل مـا یضر بدیننا أو یمس کرامته من الأقوال، والأفعال لیکون لنا هذا الدین عزاً فی الدنیا وسعادة فی الآخرة فصلی الله وسلم علی هذا النبی الکریم الذی لم یترک خیراً إلا دل الأمة علیه ولا شراً إلا حذرها منه رحمة بها ونصحاً لها فجزاه الله عن الإسلام والمسلمین خیراً أما بعد.

قال الله سبحانه وتعالی في محکم کتابه وهو اصدق القائلین: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ}التحریم:(٦).

ترجمه:ای مؤمنانو! وساتئ ځان او خپل اولادونه له داسې اور څخه چې خاشاک به یې انسانان او تیګي وي. ولاړې دي وربانـدې داسـې ملائکې ده سختو زړونو والا او دسختو نیولو والا، نافرمـاني نـه کـوي دالله تعـالی څخـه پـه هغـه کارکې چې ورته یې امر کړی دی او کوي هغه څه چې ورته امر وشي.

وقال الله تعالی فی مقام آخر:{وَلاَ تُلْقُواْ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوَاْ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ}البقرة:(١٩٥).

ترجمه: او مه اچوئ ځانونه په خپلو لاسونو هلاکت کې او نیکي وکړئ بیشکه الله تعالی نیکان خوښوي.

هرمسلمان په خپل وطن کې نړۍ ته راځي او څه ناڅه داسلامي لاربښوونو او دینـي ارزښتونو څخه خبریږي ،د دینـي آدابو او الهي هدایت څخه برخمن کیږي په سمه لار حرکت کوي او داسلام پـه مبارک دین ثابت ولاړ وي، دا یو منل شوی حقیقت دی چې مسلمان ته له هرڅه غوره داسلام مبارک دین دی او مسلمان دخپل دین دحفاظت مسؤولیت په غاړه لري او له هر هغه ځای څخه چې دمسلمان دین او یا دیني حکمونه یې دخطر سره مخ کیږي باید لـه هغـه ځایونو څخه ځان وساتي او باید ډیر محتاط واوسیږي لکه څرنګه چې انسان دخپل ځان په اړه محتاط وي او په داسې لار نه ځي چې ځان یې په خطر کې ولویږي همدا شان دخپل دین او دیني احکامو په برخه کې هم باید ډیر احتیاط وکړي.

په دې اساس غیر اسلامي هیوادونه چې دبې دینۍ ، الحاد، اخلاقي فساد، شرابو او ډول ډول نـاوړه او حرامو څخه ډک دي داسې غیر اسلامي هیوادونو ته سفر کول دین په خطر کې اچول دي په ځانګړي توګه هغه ماشومان او اطفال چې په غیر اسلامي هیوادونو کې تربیه کیږي او را لوئیږي، په یقیني توګه ویلای شو چې په دې کـار سره ځان او اولاد پـه هلاکت کې اچوي هغه کار چې د سورت تحریم په (۶ ) نمبر آیت او دسورت بقرې په( ۱۹۵) نمبر آیت کـې ورڅخـه مسلمانان منع شوي دي .

داسې ډیر پیښ شوي دي چې دینداره اشخاص غیراسلامي هیوادو ته تللي دي او بیاپه فتنه کې لویدلي دي دینداري یې په معصیت تبدیل شوی ده او یـا هم اولادونـه یـې پـه غیراسلامي تربیـه رالوی شوي دي چې داسلامي دین پـه اړه هیڅ معلومات نلري.

دا یوحقیقت دی چې محیط او اوسیدونکي دانسان په ژوند مستقیم اغیزه لري ، دینداره او صالح محیط انسان نیکۍ لورې ته خو بـدمحیط او بدملګري د انسان مشاعر د بدو خواته کش کوي؛ بالخصوص هغه ماشومان او اطفال چې سالمې تربیې ته ضرورت لري، همدا وجه ده په کوم ځای کې چې دمسلمان دین ته خطر متوجه وي مسلمان باید لـه هغـه ځای

څخه داسې ځای ته هجرت وکړي چې دين يې په امن کې وي، هجرت يواځې د ظلم څخه ځان ژغورل نه دي؛ بلکې ددين دحفاظت لپاره هم هجرت اړين دی.

د دين دښمنان د مختلفو لارو څخه هڅه او کوښښ کوي ترڅو دمسلمان دين ورفاسد کړي او دې هدف ته د رسيدلو لپاره دهرې وسيلې څخه کاراخلي. الله تعالی فرمايلي دي:{وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّاراً حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ فَاعْفُواْ وَاصْفَحُواْ حَتَّى يَأْتِيَ اللّهُ بِأَمْرِهِ إِنَّ اللّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ}البقرة:(١٠٩).

ترجمه:ډير له اهل کتابو(يهود او نصارا) څخه خوښ ګڼي چې وګرځوي تاسې ستاسو دايمان راوړلو څخه وروسته کافران ( دا غوښتنه ددوی) د نفسونو د حسد له امله ده ، وروسته له هغې چې ورته بيان شو حق ، پس عفوه وکړئ او مخ واړوئ ترهغې پورې چې الله تعالی خپل حکم راوليږي بيشکه الله تعالی په هرڅه قادر دی.

د کفر، الحاد او ګمراهۍ له زمکې څخه داسلام اومسلمانانو زمکې ته هجرت پرمسلمان فرض دی؛ نه دا چې مسلمان دې داسلام له خاورې او ټاټوبي څخه داسې ځای ته هجرت وکړي چيرته چې کفر او کفري قانون حاکم وي او ټولنه په شرک، لا دينۍ او ډول ډول فسادونو اواخلاقي پستيو کې غرقه وي. الله تعالی فرمايلي دي:{ إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلآئِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الأَرْضِ قَالْوَاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا فَأُوْلَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءتْ مَصِيرًا } (النساء :٩٧-٩٨).

ترجمه: بيشکه له هغه کسانوڅخه چې پرځانونويې ظلم کړی وي(يعنې هجرت يې نه وي کړی) کله چې ملائکې روح ورڅخه اخلي ملائکې ورته ووايي په کوم ځای کې اوسيدی؟ هغوی ورته وايي: مونږ مستضعف ګرځول شوي ؤ په زمکه کې. بيا ملائکې ورته وايي:آيا دالله تعالی زمکه پراخه نه وه چې هجرت مو کړی وای؟ داهغه کسان دي چې ځای ددوی جنهم دی او ډيربدځای د ورتللو دی.

امام ابن کثيررحمه الله ددې مبارک آيت لاندې داسې ليکلي دي:(هذه الآيةُ الكريمةُ عامةٌ في كلِّ من أقامَ بينَ ظهراني المشركين، وهُو قَادرٌعلى الهجرةِ، وليسَ متمكِناً من إقامةِ الدينِ، فهُو ظالمٌ لنفسه، مرتكبٌ حراماً بالإجماع) تفسير ابن کثير

ترجمه: ددې آيت کريمه حکم عام دی هرهغه چاته شامل دی چې دمشرکانو په منځ کې اوسيږي او حال داچې پرهجرت کولو قادرهم وي اود خپل دين په قائمولو توان نلري داسې شخص په ځان ظلم کړی دی او دامت په اجماع سره دحرام عمل مرتکب شوی دی.

الله تعالی په يو بل آيت کې فرمايلي دي:{وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللّهِ يُكَفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلاَ تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ إِنَّكُمْ إِذاً مِّثْلُهُمْ }(النساء: ١٤٠).

ترجمه: او تاسو ته په کتاب کې داحکم نازل شوی دی چې کله تاسو (له کوم قوم څخه) واورئ چې دالله تعالی په آيتونو کفرکوي او مسخرې ورپورې کوي مه ورسره کيناستلئ ترڅو چې په هغوی يوبله خبره کې ورننوځي (که چيرې تاسو دداسې خلکو سره کينی) تاسو به په دغه وخت کې ددوی په شان ياست.

امام رازی رحمه الله ددې مبارک آيت په تفسيرکې ليکلي دي(علماؤ ويلي دي: داآيت ددې دليل دی چې څوک په کفر رضايت ولري هغه هم کافرکيږي اوڅوک چې منکرووينې او ورباندې راضي وي او دمنکر له خلکو سره اختلاط ولري او يا ورسره په منکر کې دخيل وي دداسې شخص حکم داسې دی لکه چې په خپله دمنکرعمل مرتکب شوی وي. [تفسير الرازي ١١/ ٢٤٧]

امام واحدی رحمه الله ليکلي دي: (علماء وايې دداسې خلکو سره دناستې څخه ځکه مطلقا ممانعت راغلی دی چې ددوی سره په کيناستلو اوورسره په خبرو کولو کې په انسان کې يو ډول انس او ملګرتيا رامنځ ته کيږي اوداسې کار عادتا په زياتو مواردوکې رامنځ ته شوی دی؛ نوځکه ددوی سره ناسته ولاړه ممنوع ګرځول شوی ده). التفسير البسيط

پورتنيو خبرو ته په کتو پرته له ضرورت غيراسلامي هيوادونو ته تلل جواز نلري ؛ ځکه مسلمان د يوداسې عظيم دين څخه برخمن دی چې په ټولو غوره معناګانو اوبهتره صفاتو باندې مشتمل دی؛ لکه دعقيدې درست والی، په سلوک کې استقامت، په معامله او قول کې صداقت او ريښتينولي او په اخلاقو کې کمال اوداسې نور...

دداسې يو لوی دين سره په کفري او الحادي هيوادونو او د فحشاؤ او فساد څخه ډک مرکزونو کې اوسيدل هيڅ مسلمان ته جائز نه دي ؛ ځکه محيط دانسان په عقيده ، سلوک او اخلاقو باندې خاص تاثير لري او دين زمونږ لپاره لويه سرمايه ده او په کار نه ده چې خپله دغه لويه سرمايه دخطر سره مخامخ کړو. الله تعالی فرمايلي دي:{ وَلاَ تَرْكَنُواْ إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللّهِ مِنْ أَوْلِيَاء ثُمَّ لاَ تُنصَرُونَ} (هود:١١٣).

ترجمه:او دظالمانو خوا ته میلان مه کوئ بیابه درته د(جهنم) اور ورسیږي او بیا به نه وي ستاسو لپاره پرته له الله تعالی څخه نور دوستان او بیابه له تاسو سره مرسته ونه شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :(مَثَلُ جَلِيسِ الصَّالِحِ وَالسَّوْءِ، كَحَامِلِ الْمِسْكِ، وَنَافِخِ الْكِيرِ؛ فَحَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً)متفق علیه

ترجمه:د نیک اوبد ملګرِي مثال لکه د مشکو د خرڅوونکي او اهنګر په څیر دي، دمشکوخرڅوونکی تاته مشک درکوي یا به یې ورڅخه واخلی اوکه یې وانخلی دهغه له خوا به درته خوشبوی ورسیږي او اهنګر یا به دی جامې در وسیزي او یا به یې بدبوی درته در ورسیږي.

په یو بل حدیث شریف کې راغلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:(أَنَا بَرِىءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ يُقِيمُ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ. قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ لِمَ؟ قَالَ : لاَ تَرَاءَى نَارَاهُمَا)سنن أبي داوود

ترجمه: پیغمبرعلیه السلام وفرمایل: زه بیزاره یم له هرهغه مسلمان څخه چې دمشرکانو په منځ کې اوسیږي . صحابه وو عرض وکړ دا ولی یارسول الله صلی الله علیه وسلم؟ پیغمبرعلیه السلام وفرمایل: ترڅو د دوی اور یوبل ونه ویني.

دحدیث معنا داسې ده چې مسلمان باید له مشرک څخه لرې واوسیږي او دمسلمان کوراو اقامت ګاه له مشرک څخه دومره لرې وي که چیرې مسلمان اور بل کړي چې کافر یې ونه ویني او ورته ښکاره نه شي.[تحفة الاحوذي]

## په غیر اسلامي هیوادونو کې دمسلمان اوسیدل:

لکه مخکې مو چې وویل غیراسلامي هیوادونه چې دکفر، ګمراهی، اخلاقي مفاسدو، لادینی اوهرډول منکراتو مرکزونه دی په داسې محیط کې اوسیدل د مسلمان دځان، او اولاد دهلاکت سبب ګرځي ټول په فتنه کې اچول دی چې په شریعت کې ورڅخه منع راغلی ده.

دفساد په مرکز کې خپل عزت، مروت او دین ساتل مسلمان ته مشکل کاردی او باید چې په داسې هیوادونو کې له اوسیدلو څخه ډډه وشي.

پخواني فقهاء او معاصرټول علماء په دې خبره اتفاق نظرلري چې په کفري غیراسلامي هیوادونو کې پرته له ضرورته اوسیدل حرام کاردی.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:( لَا تَسْتَضِيئُوا بِنَارِ الْمُشْرِكِينَ )مسند أحمد - الرسالة (۱۹/ ۱۸)

ترجمه: له انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: روښنائي مه اخلئ دمشرکانو له اورڅخه .

محدثین ددې حدیث په شرح کې وایې چې د دی حدیث معنا داده :تاسو دمشرکانو په منځ کې مه اوسیږئ او له دوی سره اختلاط مه کوئ.

امام ابن کثیررحمه الله وایې: ددې حدیث معنا داده چې دوی ته مه نږدې کیږئ داسې چې ددوی په هیوادونو کې تاسو واوسیږی بلکې له دوی څخه لرې استوګنه غوره کړئ او ددوی له هیوادونو څخه هجرت وکړئ. [تفسیر ابن کثیر]

په یو بل حدیث کې راځي: عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْبَجَلِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ :( مَنْ أَقَامَ مَعَ الْمُشْرِكِينَ فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ).[البيهقي]

ترجمه: دجریربن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې دمشرکینو سره اوسیدل غوره کړي له ده څخه ذمه خلاصه شوه یعني دمسلمانی حصانت یې له منځه ولاړه.

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ أَمَّا بَعْدُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ جَامَعَ الْمُشْرِكَ وَسَكَنَ مَعَهُ فَإِنَّهُ مِثْلُهُ ».[ سنن أبی داود]

ترجمه: دسمره ابن جندب رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: څوک چې د مشرک سره ګډ ژوند اختیار کړي او له هغه سره سکونت وکړي  دا هم دهغه په شان دی.

په يوبل حديث کې داسي راځي: قال جرير رضي الله عنه : أتيت النبي صلى الله عليه وسلم وهو يبايع فقلت: يا رسول الله! ابسط يدك حتى أبايعك واشترط علي فأنت أعلم، قال: أبايعك على أن تعبد الله وتقيم الصلاة وتؤتي الزكاة وتناصح المسلمين وتفارق المشرك.( المستدرك للحاكم ومسند أحمد)

ترجمه:جرير رضى الله عنه فرمايې چې درسول الله صلى الله عليه وسلم حضورته دبيعت کولو په موخه راغلم ومې ويل يارسول الله صلى الله وعليه وسلم لاس دې راکړه چې بيعت درسره وکړم او شرط راباندې کېږده ته ښه پوهېږې.

رسول الله صالله صلى الله وعليه وسلم ورته وويل : بيعت درسره کوم په دې شرط چې دالله تعالى عبادت به کوئ، لمونځ به قائموئ، او زکات به ورکوئ او مسلمانانو ته به نصيحت کوئ او له مشرک څخه به جلا کيږئ.

الله تعالى فرمايلي دي:{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لاَ يَأْلُونَكُمْ خَبَالاً وَدُّواْ مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاء مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الآيَاتِ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ}آل عمران: (١١٨).

ترجمه:اى مؤمنانو! له خپلو مسلمانانو څخه پرته بل څوک په پټې دوستى سره مه نيسئ هغوى ستاسو په حق کې دهيڅ ډول فسادڅخه دريغ نه کوي او خوښ ګڼي هغه څه چې تاسو په مشقت کې اچوى يقينا ښکاره شوى دى بغض ددوى له خولو څخه او هغه څه چې پټ کړي دي سينو ددوى هغه ډيرلوى دى يقينا مونږ بيان کړل تاسو ته آيتونه ددې لپاره چې دعقل څخه کار واخلى.

مسلمانانو ته لازمه ده چې په هيڅ حالت کې دکفارو خيرخواه ونه اوسيږي.

په يو حديث کې راځي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:(وعن سمرة بن جندب رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: لا تساكنوا المشركين ولا تجامعوهم فمن ساكنهم أو جامعهم فهو مثلهم . وفي معناه حديث: لا يقبل الله من مشرك بعد ما أسلم عملا؛ أو يفارق المشركين إلى المسلمين.( المستدرك للحاكم والطبراني)

ترجمه:د سمره بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دى چې نبي عليه السلام فرمايلي دي: دمشرکانو سره يوځاى سکونت مه کوئ او له هغوى سره مه يوځاى کيږئ که چيرې څوک له تاسو څخه دهغوى سره واوسيده اويا يې ورسره ملګرتيا وکړه هغه به هم دهغوى په شان وي.په بل حديث کې راځي:الله تعالى له هغه مشرک څخه چې اسلام راوړي ترهغې عمل نه قبلوي ترڅومشرکينو څخه دمسلمانانو په خاطر جدا نشي.

امام قرطبى رحمه الله ليکلي دي:(قلت : ولا يختلف في أنه لا يحل لمسلم المقام في بلاد الكفر مع التمكن من الخروج منها ؛ لجريان أحكام الكفر عليه ، ولخوف الفتنة على نفسه . وهذا حكم ثابت مؤيَّد إلى يوم القيامة)المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم

ترجمه : زه وايم: په دې کې هيڅ اختلاف نشته چې مسلمان ته جائز نه دي چې دکفارو په هيوادونو او ښارونو کې واوسيږي سره له دې چې وتل ورته ممکن وي ؛ ځکه چې په دغه هيوادونو باندې دکفر حکمونه تطبيق کيږي، بله داچې د هغه نفس ته خطر متوجه دى او دا حکم ثابت او ترقيامت پورې تائيد دى.
البته ځيني معاصروعلماؤ غير اسلامي هيوادونو ته دتللو لپاره ځيني شرطونه لازم ګڼلي دي چې درى يې په لاندې ډول دي:

١. غيراسلامي هيوادونو ته تلونکى شخص به دعلم څښتن وي. ځکه علم هغه سلاح ده چې په دې سره کولاى شي د شکوکو او شبهاتو مقابله وکړي.
٢. بله داچې محصن به وي. يعني واده به يې کړى وي ددې لپاره چې دشهواني حرکاتو مقابله وکړاى شي.
٣. بله داچې سفر به يې د ضرورت په بنا وي؛ لکه دعوت اوتبليغ، علاج، تجارت او داسي نورچې دخپلې اړتيا دپوره کولو څخه وروسته به بيا خپل وطن ته راستنيږي.

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته